بعداً از رسالهٔ دیگری ، نویسنده یی اطلاع یافتم که تعصبش ورد زبان و شهرت آفاقی داشت و بصورت مستمرو دوامدار علیه اسلام و پیامبر آخرالزمان طعن و تهمت نثار میکرد ، تا اینکه روزی مفهوم حیات بخش و زندگی ساز (ولکم فی القصاص حیاة یا اولی الألباب) نظرش را جلب و بعد از پی بردن به فلسفه های دقیق و اسرار نهفته در مبادی ، قوانین و اصول اساسی اسلام به یکی از علماء که این عالم معرفت کاملی با او و تعصبش داشت مینویسد : ای برادرم ! از حماقت و عـدم آشنائی و تعصبم با دین و شریعت تان پوزش خواسته معذرت خود را در مورد شریعتی تقدیم مینمایم که به دنبال بدبینی ام چهره و هویت واقعی واصلی آنرا درک و به حقانیت و دقت مقرراتش معـترفم و با اطمینان قلبی، این دین را بوسعت و شمول ـ به تمام گوشه های زندگی توصیف و تعریف مینمایم ، شاید ازین تحول فوری در اعماق ذهنم بایکجهان تعجب روبرو و مواجه شوی ولی هرگاه علت و سبب این تغیر فجائی را در یابی هرگز در تعجب فرو نخواهید رفت . . . رفیقم و دوست صدیقم ! میدانی در قسمت کتاب تان هکذا در ماحول پیامبر تان اطلاعات و اندوخته های و افری کسب کرده ام و بدینو سیله استطاعت و توانائی کاملی دارم که درحین ورود شما بکشور ما دلائل مقنع را ارائه و تبادل حجت و استدلال نمایم .

برادر عزیز و محبوبی داشتم ، روزی از دست عصیانگر ، ستم پیشه و ظالمی بدون جرم و جنایت کشته و ترور شد بنابران قلبم از کینه و عقده نسبت به قاتلش مالا مال و لبریز گردید و وسوسه های گیج کننده طاقت فرسا مرا پیچاند و خستگی درد دهنده قرین حالم شد ، روی همرفته روز محاکمه فرا رسید ، همان بود که قرآن را باز نمودم ، ناگاه چشم را آیهٔ (ولکم فی القصاص حیاة یا اولی الباب) جلب نموده فکر کردم چطور ممکن است در قصاص و اعدام قاتل زندگی و حیات مضمر بوده باشد ؟

اما خودم هنوز به تفسیر نهائی و نظر مقنع در مورد این آیه نرسیده بودم که شب تارو تاریک باهمهٔ سیاهی های خویش رخت بربست و روز روشن جهان را در آغوش انوار تابندهٔ خود با گرمی جاداد و لحظات محا کمه در رسید ، محکمه به اعدام قاتل حکم خویش را صادر نمود ، در همین د قائق حساس طوری احساس کردم گویا جدیداً تولد شدم و از حیات و زندگی تازهٔ برخوردار گردیده ام ، خود را سر بلند و در عالم سرور و رفعت یافتم ، نیروی جدیدی در رگ رگ وجودم جا بجا شد و در تمام زوایای جسمم فرحت سرایت کرده دلم از خوشی انبساط یافت ، طنین فرحت افزای هاتف پرده های

گوشم را نیروی نوینی بخشیده ندا داد که پروردگار محمد ﷺ راست فرموده (ولکم فی القصاص حیاة یا اولی الباب) از همین برهه از زمان ایمان آورد که چنانچه خداوند فرموده ، حضرت محمد ﷺ هیچ سخنی از روی خواهشات نفسی نمیگوید وحی بر محمد ﷺ از آسمان فرود می آید جزئیترین شکی درین امر

آن اعتراف نموده شهادت دهد .

خدایا ! این است رسول برگزیده ات که بدون شک مسئولیت ادای امانت را انجام داد و رسالت خویش را بپایان رسانید ، و برهنمائی عالم بشریت پرداخت و جهان را از تاریکیهای جهل و بردگی و ارهانید و از نعمت بیش بهای حق و حریت همه

«قل ان کنتم تحبون الله فاتبعونی یحببکم الله ویغفرلکم ذنوبکم» .
(آل عمران : ۳۱)

ترجمه :

بگوای پیامبر (ﷺ) ! اگر شما خدا (ج) را دوست میدارید ، پیروی مرا کنید خداوند (ج) شما را دوست خواهد داشت و گناهان تان را خواهد بخشید .

* * *

وجود ندارد .

علی العجاله این دو مثال را بطور نمونه تقدیم کردم ، اگر شرایط اجازه داد امثلهٔ زیادی را خدمت خوانندگان عزیز تقدیم خواهم نمود ، برای تثبیت حقانیت و برتری اسلام و پیام آور آن کفایت خواهد کرد که دشمنان سر سخت و آشتی نا پذیر آن بحکم عدم امکان چشم پوشی از شواهد قاطع و انکار ناپذیرش به معقولیت و حقانیت اسلام و پیامبرآن شهادت دهند و در برابر آن سر تسلیم و انقیاد خم کنند و پس از بحث و بررسی و انتظار طولانی و حسودانه ابراز باور و تصدیق نمایند . (و الفضل ما شهدت به الاعداء) برتری آن است که دشمن به

را مستفید ساخت ، خدایا ! از جانب بندگانت برایش بهترین پاداش عنایت فرما ، و ما را در زمره کسانی در آر که زاد و سرمایهٔ را از شریعت پیامبر اسلام کمائی نموده باشند و از سنت او پیروی نیک کرده باشند ، خدایا ! ما را در پیشگاهت از جملهٔ بندگان مقبول و پذیرفته شده حساب کن ، بندگانیکه در تمام اعمال) جدو جهد خویش جز اعلای دین و کسب رضایت مرام و هدفی ندارند .

(امین یا رب العالمین)

ای خلکو ! ما تاسو ته داسی یو خدایی کتاب پریښود که تاسو پری منگولی ولگوی (په عمل پری وکړی) هیڅکله به لیار ورکه نکړی . . .
(مسلم)

د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وآله وسلم عظمت

که د تاریخ پاڼو او دبشری افرادو د ژوندانه مراحلو ته وکتل شی او بیا په انسانانو کی چه کوم کسان د عظمت په صفتونو یا د شوی نو معلومیږی چه د هغو د عظمت اسباب او د مفاهیم مختلف او د بیلا بیلو قضاوتونو سره مخامخ دی.

د نړی په تاریخ کی داسی کسان په نظر راځی چه دوی یوازی د مال او شتمنی په وسیله ځانته ئی مالی مقام او قدرت ګټلی او ګټی ئی او په نورو باندی ئی فوقیت او امتیاز پیدا کړی ولی بیا دغه مال او شتمنی چه د ایمان ، تقوی، عدالت او احسان شعار ورسره ملګری نه ؤ د هغو د ظلم او سرکښی باعث ګرځیدلی او د نورو له محکومیت او زحمت ګاللو او زګیرویو څخه ئی خوندونه اخستی دی .

بل د جاه طلبی او حاکمیت دحرص او نفسانی غوښتنو په اساس پر انسانیت او حق باندی د هغو ظالمو یرغل ګرو او د معصومو انسانانو د وینوتو یو نکو حکمرانانو ظالمانه او تخریبی قدرت او مقام دی چه د حق او عدالت ، صلاح او تقوی له حدودو ئی تیری کړی ، په ډیر وحشت او حیوانیت ئی بیګناه انسانان وژلی ، د هغو پر ژوند او حقوقو ئی لوبی کړی او پر هغو ئی د خپل حیوانی حاکمیت هیبت کښینولی او ځان ئی د فوقیت او تسلط مقام ته رسولی په داسی حال کی چه الهی قانون او عدالت او حقیقی انسانیت د دغه راز لوړو مقامونو او قدرت خاوندان

د قضاوت او عدالت په محکمه کی مسئول او د هغو ظالمانه عملونه د ترخو نتیجو وړ ګڼی او هغوی له حقیقی عظمت او د انسانیت له اصلی او مطلوبی مفهوم څخه لری ښیی ولی بالمقابل هغه عظمت چه د انسانیت د ښه توب او کمال معراج ته رسیدلی او د نړی والو د پاره ئی د الهی توحید د عقیدی ، تقوی ، عدالت ، ترحم ، د اخلاق فضایلو ، د انسانی ارزښتونو او حقوقو د احترام ، د ذات البینی او بین ـ المللی اړیکو او تعاملاتو د ټینګښت او د خیر او ښیګڼی د روحیی د را ژوندی کولو او خلکو ته ئی د سولی او امنیت او بشر دوستی د ارزښت او ضرورت د رسونه وړاندی کړی او ترقیامته د بشری افرادو او ټولنو د ژوندانه د ښه توب او نیکمرغی تضمین کوی او د ژوندانه له تپوتیارو طوفانی څپو او د ژورو خطرناکو ګړنګونه لویدلو څخه د ژغورنی دین او قانون پریښی هغه د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) رحمة للعلمین پیغمبر عظمت دی څنګه چه د دغی الهی خاتم الانبیاء پیغمبر اخلاق قرآن او په قرآن سره د هغه اخلاق عظمت ښودل شوی د هغه عظمت د بشری افکارو او قضاوتونو د تأثیر او محدودیت لاندی نشی راتلای.

که نن اسلامی هیوادونو کی د دغه الهی پیغمبر د پیدایښت او بعثت تحولی او انقلابی له فیض او تأثیره دکه ورځ نمانځل کیږی او د هغه په میلادی

غونډو کی د هغه د ستر شخصیت او عظمت او د هغه له کیفه ډک ژوند د اثارو او کارنامو او د هغه د دین او کتاب د قدسیت ، کمال او جامعیت د خصوصیاتو ، تحولاتو او ښیګڼو خبری کیږی ښائی چه دغو میلادی غونډو ته داسی عنعنوی شکل او رواجی حیثیت ورنکړ شی چه مسلمانان د هغه د دین د عظمت ، د هغه د رسالت د کتاب (قرآن) د عظمت او د هغه د دینی او اخلاق او اصلاحی شخصیت د عظمت له مفهوم او له هغه مسئوولیت څخه چه د عمل په ډګر کی ورته متوجه دی غافل او د خپل هدایت ، قوت ، عزت ، سعادت او سیادت غوښتنه ونکړی بیا خصوصاً زمونږ د افغانستان مسلمان ولس د پاره چه د روسی ملحدو او ظالمو یرغل ګرو دلاسه په سروینو ککړ او کورونه ئی په بمونو او توپونو په کنډوالو ، مال او زراعتی فصلونه او خوراکی مواد او د ژوندانه ضروری اسباب او وسایل ئی په ایرو بدلیږی او شتمنی ئی لوټ او له منځه ځی او بیا دغه نړی واله لویه بلا د هغه د اسلامی هیواد استعمارول او د هغه د ازادی محکومول او په ژوند او ښیګڼو ئی لوبی کول غواړی ښائی چه د اسلام د مقدس دین عظمت ، د پاک قرآن عظمت او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د عظمت مزایا او د هغه د مدرسی د پیروانو د عظمت کارنامی په نظر کی ونیول شی او هغه دا چه ځان وپوهوی چه د اسلام د مدرسی د لومړنیو مسلمانانو په دغی یادونی او د هغی په خاوند پاندی عملی ایمان ؤ په افعالو او تطبیقی ډول مخکی له خبرو ، عملی ایمان ؤ په زړونو او ارواحو سره مخکی له صورتونو ، عملی ایمان ؤ په وینو ، مالونو ، اهل او اولاد او خپلوانو بلکه عملی ایمان ؤ په هر نعمت او په هر ډول جهاد او سربښندنی سره .

لومړنیو مسلمانانو په دغو ټولو باندی عقیده وکړه او په دی باندی وپوهیدل چه د حق او واقعی ایمان میوه رښتینی محبت او د دغه محبت د پاره حقوق او په څنګ کی ئی واجبات او ذمه واری شتــه .

د هغو په نظر کی د محبت حق داؤ چه د محبوب متابعت و شی او د احکامو او لارښودنو په اساس ئی ژوند وشی ، او له واجباتو او ذمه واریو څخه ئی داؤ چه د هغه د رضا او خوښی د حصول په لاره کی هر ډول تکلیفونه وزغمل شی او هر ډول ایثار او سربښندنی ته غاړه کیښودله شی او په کی د حق د جذبی پوره احساس وشی.

په دغو ټولو کی د مسلمانانو د پاره په دښمن باندی د کامیابی ښه ذ رسونه شته او ښائی د دغو ټولو په اساس ژوند او د دښمن مقابله وشی .

نن ورځ د موجوده ؤ مسلمانانو او د هغو راتلونکو نسلونو او کسانو د پاره د پند او عبرت دا د رس شته چه ټول متوجه اوسی چه پاک خدای د اسمانی ادیانو د سلسلی په آخره کی د جهالت او وحشت طوفان وهلو د هدایت او سعادت په منظور د اسلام د عظمت دین اعلان کړ او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ئی د عظمت پیغمبر او د هغه د دین او رسالت کتاب ئی د عظمت مشعل او قانون وګرځاوه نو بیا همدغه رحمة للعالمین پیغمبر ؤ چه په قوی ایمان بشپړ اعتماد ، ښه اخلاص او ثبات او نه ماتیدونکی عزم خلک ئی د هدایت او سعادت په لوری را وبلل ، د باطل پرستانو او شریرو عناصرو د بی ځایه پروپاګندو او نسبتونو ، ډول ډول اذیتونو او تکلیفونو او تهدیدونو له امله ئی دحق دین او تبلیغ څخه لاس وانخست او نه د هغه څخه

د مال او رياست د مقام د عرضه کولو د تأثير لاندې راغی څکه د هغه يوازنی منظور د انسان هدايت او سعادت او د کلمة الله لوړول او حاکم ګرځول ؤ .

البته اسلامی تاريخ د دغه آلهی پيغمبر په هغه فولادی او نه ماتيدونکی عزم چه د کفر او شر د خاوندانو او د انسانيت د دښمنانو ټول پيشنهادونه ئی د خلکو د هدايت او سعادت په منظور رد کړل پوره شاهد دی او د هغه د قوی ايمان او فولادی عزم وينا چه له خپل مهربان تره ابو طالب څخه د هغه د منع کيدلو غوښتنه وشو دا ده .

«ياعم ، والله لو وضعو الشمس فی يمينی والقمر فی يساری علی ان اترک هذا الامر ماترکته حتی يظهره الله اواهلک دونه» .

ای تره ! قسم دی که دوی وکړای شی چه لمر زما په ښی لاس او سپوږمی زما په کين لاس کی کښيږدی (د اسمانو او ځمکی واکی ما ته ترلاسه کړی) او دا په دی منظور چی زه خپل رسالت څخه لاس واخلم نوزه به هيڅکله دغه کار ته حاضر نشم څو چی خدای دغه حق دين غالب نکړی او يا زه په دغه لار کی خپل ژوند د لاسه ورنکړم .

بل همدغه آلهی پيغمبر دی چه کوم وخت طائف ته ځی او د طائف خلکو ته د هدايت او سعادت خبری کوی نو د طائف مشران له طائف څخه د دغه الهی پيغمبر د ويستلو امر صادروی او د هغه د ربړولو د پاره ماشومان او زلميان ګماری او بيا سره د دی چه د طائف کوڅی او لاری او ډبری د هغه په مبارکو وينو رنګينيری او ډير دردونه او تکليفونه وينی د طائف د خلکو دپاره د هلاکت غوښتنه نکوی بلکه هيله کوی چه کوندی له دوی څخه داسی کوم يو پيدا شی چه په خدای ايمان راوړی او د هغه عبادت وکړی .

حضرت محمد رحمة للعالمين پيغمبر صلی الله عليه وسلم د مکی په (۱۳) کلنی دوره کی خپل جهاد د دعوت او تبليغ لاره ګرځولی ده او بيا چه ئی مدينی منوری يعنی د اتحاد ، قوت او شوکت سنګر ته هجرت وکړ او هلته ئی د اسلامی دولت بنسټ کښيښود نو بيا د دښمنانو د شر او فساد د محوکولو په غرض ورته د بدنی جهاد حکم وشونو بيا همدغه الهی پيغمبر ؤ چه د جهاد په مختلفو ساحو ، سنګرونو او وختونو کی به ئی په قوی ايمان او اخلاص او بشپړی ميړانی او سرښندنی د شر او باطل د عناصرو مبارزه کوله او د جنګ په ميدان کی به لکه قوی غر ثابت ولاړؤ او ويل به ئی :

ان النبی لا کذب ان ابن المطلب

هماغه ؤ چه کوم وخت مسلمانانو د دغه الهی پيغمبر د هدايت او دستور په اساس د دښمنانو مقابله کوله او د جهاد فريضه ئی د کلمة الله د لوړولو او د اسلام د خپرولو او بری په منظور سر ته رسوله نو الهی مرسته او نصرت به د دوی په برخه ؤ او د دوی وړوکی او محدود ټولګی به د دښمنانو په لوی او په حربی وسايلوسمنبال لښکر غلبه موندله څکه خدای د صادقو مسلمانانو د پاره «نعم المولی ونعم النصير» دی او په دغه باب قرآن داسی خبر ورکړی .

«کم من فئة قليلة غلبت فئة کثيرة باذن الله»

او په دغه باب رحمن بابا د پښتو لوی شاعر داسی ويلی !

چه مولی درسره مل نه وی رحمانه

که لښکری درسره وی يک تنهائی

ولی کوم وخت چه مسلمانانو دا حد په تاریخی غزا کی د خپل اسلامی ستر قوماندان او سالارحضرت محمد صلی الله علیه وسلم له دستور څخه مخالفت کړی او د دنیوی مال او متاع (د غنیمت مال) د تاثیر لاندی راغلی نو دغه مخالفت او دنیوی طمع د هغو د ماتی سبب گرځیدلی او د جنگ کامیابه‌صحنه په بله شوی ده.

همدغه الهی پیغمبر دی چه د قرآنی هدایاتو او د خپلو نبوی ارشاداتو د عظمت په مدرسه کی دحقی‌لاری دعظمت مجاهدین اودحق مشعل‌وړونکی روزلی او بیا هغو نړیوالوته د هدایت، حق، تقوی، فضیلت، عدالت انسانیت، د حقوقو د احترام او د اجتماعی تضامن او ذات البینی علایقو او تعاملاتو او د سولی او امنیت د رسونه ښودلی او د خیر او فضیلت معلمان گرځیدلی دی.

همدغه د محمدی مدرسی د عظمت تأثیر دی چه مسلمانانو به جهاد په لاره او د خیر او ښیگڼی په نورو ساحوکی مالی او بدنی سرښندنی کولی او یو د بل څخه به ئی خپل سبقت ښوده.

اسلامی تاریخ د حضرت محمد صلی الله علیه‌وسلم په دستور د تبوک د غزا د پاره د مسلمانانو د مالی بیسابقی لکه د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضی‌الله عنهما په نسبت او د حضرت عثمان رضی الله عنه د لوی او بی‌ساری مرستی او ښیگڼی او ستر ایثار او فدا کاری او همدا راز د توان په اندازه د نورو مسلمانانو د مالی مرستو او ښیگڼو ښه مثالونه ژوندی ساتلی دی.

همدا راز د اسلام په حقه لارکی د حضرت‌پیغمبر صلی الله علیه وسلم داصحابو بدنی قربانی او د کلمة‌الله د لوړولو د عشق جذبه پوره معلومه ده چه هغوی ځرنگه د پتنگ په شان د جهاد په میدان کی گډون کاوه او د شهادت د خوږ جام څښلو ته ئی لبیک ویلی.

هماغه ؤ چه مسلمانان د جهاد په ښه نیت، تقوی، اخلاص، اتحاد او د ایثار او سرښندنی دستری روحیی په لرلو او ښودلو سره پر خپلو ډیرو او په وسلو سنبالو دښمنانو غالب شوی او د دنیوی مال او متاع او د نفسانی غرایزو او د جاه طلبی د تأثیر لاندی نه دی راغلی.

(هو! داحد په غزاکی ځنی محدود مسلمانان چه د سنگر د ساتلو وظیفه ور په غاړه وه د اسلامی لښکر دبری میندلو په وخت د غنیمت د مال په لوری و دانگل ولی هغوی د خدای له لوری تنبیه شول او د نورو د پاره دپند اوعبرت درس وگرځیدل)

د دی د پاره چه نن د افغانستان مسلمان مجاهد ولس د روسی ملحد او ظالم لښکر د بشپړی ناکامی سره مخامخ کړی او د دغه نړی وال لوی استعمار او د دین او انسانیت سر سخت دښمن استعماری هیلی شنډی او د اسلامی افغانستان څخه د استعمار تغرتول کړی ښائی چه ټول مجاهدین د قرآنی هدایتو او نبوی ارشاداتو په رڼا او د اسلام د لوړنی مدرسی د مجاهدینو د کارنامو په اساس د خپل جهاد مقدس مسئولیت په تقوی او اخلاص ترسره کړی، د دنیوی مال او متاع او د جاه طلبی او شهرت میندلو په هیله خپل اسلامی‌جهاد له خپل‌قدسیت او د بریالیتوب له دائری څخه و نه باسی، هغه مفسد او شریر عناصر چه په بدل رنگ او بڼه د اسلامی حزبونو او مجاهدینو ترمنځه د بی اتفاق تعصب، دښمنی او جنگ فضا پیدا کوی باید دغه راز عناصر و پیژندل شی او د مجاهدینو ډلی ورڅخه تصفیه شی.

نن دښمن د خپلو اجنټانو په وسیله په ډیره پیمانه هم د اسلامي حزبونو او هم د افغانستان په داخل کی د مجاهدینو تر منځه د بی اتفاق او یو د بل سره د جنګولوکو ښښونه لری البته له دی څخه غافلیدل (خدای دی نکړی) د دښمن په ګټه او د جهاد په ناکامی تمامیږی .

بل څنګه چه د ټولو مجاهدینو هدف د روسانو څخه دافغانستان ازادول او په افغانستان کی داسلامی حکومت جوړول دی ښائی چه د جهاد په سنګرونوکی ټول مجاهدین د دښمن په مقابل کی یو موټی شی او کوښښ وشی چه حتی د یوه مجاهد ګولی هم دبل مجاهد په سینه و نه لګیږی ځو قاتل او یا قاتل او مقتول دواړه د الهی عذاب مورد ونګرځی او د اسلام او تاریخ په نزد د ګناه او مسئولیت پیټی په غاړه نشی.

بل هغه کسان چه د مالی قدرت خاوندان دی دوی هم باید د مجاهدینو سره لازمه مرسته وکړی ځکه د مجاهدینو سره مرسته کول او د هغو سنبالول په جهاد کی برخه اخستل دی .

بل د دی د پاره چه مجاهدین په ډاډه زړه د جهاد په سنګرونو کی ګډون وکړی او د خپل جهاد مقدس مسئولیت ترسره کړی ښائی چه له جهاده ناست کسان د مجاهدینو د کورنیو پاملرنه وکړی او د هغو حرمت او حق خوندی وساتی .

بل هغه کورنۍ چه مجاهد ئی په شهادت رسیدلی باید د دغه کورنی نژدی خپلوان د هغه د پاتی کسانو سرپرستی وکړی او په دغه باب خپل اسلامی او نسبی مسئولیت ترسره کړی .

البته په عمومی توګه د ټولو مجاهدینو او بیا خصوصا د شهیدانو د کورنیو انتظام او هوساینه د اسلامی حزبونو په غاړه دی او باید د دغو حزبونو لخوا په دغه باب څو چه امکان دی هیڅ کمی و نه لیدل شی بل څنګه چه دښمن په تبلیغاتی وسایلو سره زموږ د اسلامی مقدس جهاد په لاره کی خنډونه پیدا کوی او د مجاهدینو په نسبت د خلکو د ذهنیت د مغشو شولو په لاره کی هڅه کوی او غواړی چه په هره وسیله چه وی د افغانستان مسلمان خلک او مجاهدین سره و جنګوی او په دی ډول خپل استعماری شوم پلان ترسره کړی ښائی چه په مطلوبه پیمانه د دښمن تبلیغاتی او پروپاګندی هلی ځلی شنډی او د افغانستان ټول مسلمان ولس او مجاهدین د دغه نړی وال استعمار او د دین او انسانیت د دښمن په مقابل کی ویښ او د مقابلی د پاره ئی یو موټی او ټول پلانونه او استعماری هلی ځلی ئی رسوا او شنډی شی .

البته په دغه باب د حضرت محمد رحمةللعالمین پیغمبر صلی الله علیه وسلم دغه مبارکه لارښوونه دهر ډول جهاد ښه دلیل دی او هغه دا چه :

«جاهدوا المشرکین باموالکم وانفسکم والسنتکم»

په پای کی ټولو اسلامی مجاهدینو اومسلمانانو ته د عظیم الشأن قرآن د دی پیغام او دستور یادونه کوو :

«واعتصموا بحبل الله جمیعا ولاتفرقوا»

«وجاهدوا فی الله حق جهاده»

دا حند په غزا کی څنی محدود مجاهدین چی د سنګر د ساتلو وظیفه د دوی په غاړه وه ـ د اسلامی لښکر د بری مینډلو په وخت کی د غنیمت د مال په لوری و دانګل : ولی هغوی د خدای (ج) له لوری تنبیه شول او د نورو د پاره د پند او عبرت درس وګرځیدل .

فدا محمد فایض

کمونیزم

نظام طبقاتی و سرمایه داری

از سال ۱۹۱۷ م به اینطرف که رژیم کمونستی در سر زمین روس حاکم شده است همواره از حنجره های کاخ نشینان کرملین این صدا بلند میشود که نظام کمونستی بهترین نوع عدالت اجتماعی است و نظام کمونستی در واقع یک حکومت کار گری است و بدروغ شعار پرتزویر «پرولتاریای جهان متحد شوید» را زمزمه کرد و چنان وا نمود کردند که در این رژیم منفور کارگر و زارع استثمار نمیشود . به وقار و حیثیت انسانیش کاملاً به دیدهٔ احترام نگریسته میشود. بلی این صدایی است که از عقب دیوار های آهنین مرزی روس که فضای مختنق رژیم مستبد کمونیزم در آنجا حاکم است ؛ گلوها گرفته است و دهانها بسته ، شنیده میشود . آنجا که پیش قدرتمندان روس کار گر و زارع برابر یک حیوان ارزش ندارد .

قدرتمندان روس از افراد پائین جامعه بحیث برده و آنهم بشکل پائین ترین نوع بردگی کار میگیرند وهمه سرمایهٔ دولتی را بخود اختصاص داده اند وحتی برای تفریح خارج از شهر مسکو بهترین کاخها اعمار کرده اند که بنام «داشا» یاد میشود و بعض ها حتی در کنار دریا ها و کنار جنگل ها که بهترین جاهای هوا خوری بشمار میروند در حدود چندین «داشا» دارند

و بقول مهدی پیشوایی : «در این کشور ها (کمونستی) رهبران و مقامات بلند پایهٔ حزبی و دولتی همان زندگی اشرافی ومجلل را دارند که رهبران جهان سرمایه داری» .

«اندری سخاروف» یکی از دانشمندان ناراضی روس که اکثر گوشها بانامش آشناست و در سال ۱۹۷۵ برندهٔ جایزه صلح نوبل شد ، جامعهٔ فعلی روس را چنین ترسیم مینماید :

«به نظر من باید جامعهٔ فعلی شوروی را به طور بسیار موجز به عنوان یک «جامعهٔ سرمایه داری دولتی» تعریف کرد ، به عبارت دیگر سیستمی که بوسیلهٔ ملی کردن کامل اقتصاد تسلط مطلق حزب و حکومت در قلمرو اقتصاد و دست آخر در زمینهٔ فرهنگ و ایدیولوژی و دیگر قلمرو های بنیادی حیات از سرمایه داری معاصر متمایز است هزاران نفر جز من همین نظریه را در مورد سرمایه داری خارجی و سرمایه داری شوروی اظهار کرده اند» .

هید ریک اسمیت که در باره شوروی مطالعه و بررسی مفصل نموده چنین مینویسد :

«همان طور که در قرن نزدهم میلادی اشراف انگلستان کاخهای بزرگ و متوسط داشتند و کار گران و کشاورزان انگلیسی دارای آن کاخها نبودند

امروز هم سران حزب و دولت شوروی دارای خانه های شهری و «ویلا های ییلاق» زیبا هستند اما کار گران و کشاورزان شوروی از آن خانه ها و ویلا ها محروم می باشند و همان طور که اشراف انگلستان لباس های خود را در خیاط خانه های مخصوص می دوختند، امروز هم سران حزب و دولت شوروی لباس خود را در خیاط خانه های مخصوص میدوزند» .

مهدی پیشوایی یکی از نویسنده گان بزرگ ایران که قبلاً نیز از آن یاد آور شدیم نظام طبقاتی و سرمایه داری کمونیزم را بوجه احسن ترسیم میکند که نقل میکنیم : «مارکسیستها چنان در زمینهٔ مبارزه با سرمایه داری و قطب های ثروت و ایجاد جامعهٔ بی طبقه داد سخن میدهند که هر شخص بی خبری ممکن است تصور کند که انسوی دیوار آهنین و سیمهای خار دار واقعاً چنین جامعه بی بنا نهاده شده است ، در حالیکه همانجا نیز سرمایه داری به شکلی دیگر بیداد میکند و همان تمرکز قدرت ، همان سلطهٔ بی رحمانه همان بهره کشی منتها بصورت دولتی وجود دارد» .

در کشور روس که شست و اند سال از انقلاب بلشو یکی در آن کشور میگذرد تاحال فقط شانزده ملیون که شش فیصد نفوس روس را تشکیل میدهد عضویت حزب کمونست را دارند . ایا درین مدت در از ملت روس که ملتی است ستمدیده چرا وارد بهشت خیالی کمونیزم نشد ؟ آنها از نزدیک مشاهده میکنند که این بهشت مخصوص چند نفری است که از کاخ کرملین برملت روس حکمرانی میکنند ، آنها آتش سوزان جهنم کمونیزم را بچشم سر می بینند ، می بینند که محصول دست کار گر و زارع در خدمت چپا و لگران کرملین قرار میگیرد .

اگر خیلی هم بزبان ساده سوال کنیم که آیا زندگی یک کارگر و زارع برابر با زندگی کاخ نشینان کرملین و هوا خواهان خون آشام آنان است. جواب منفی است آیا این دو طبقه در لباس ، خانه و نان که شعار پرتزویر کمونستهاست باهم برابر اند ؟ نی

پس کمونستها چگونه دم از جامعهٔ بی طبقات میزنند و چگونه خود را ضد سرمایه داری جلوه میدهند ؟

کمونیزم همیشه سعی دارد از راه تبلیغات یک عده اشخاص بی مغز را فریب دهد و حلقهٔ بردگی را در گوش شان بیندازد کرملین همیشه ایدیولوژی فاسد خود را یا از طریق تبلیغات در وغین به کشور های دیگر صادر کرده است و یا هم از ره جبرو زور سر نیزه چنانچه اشغال نظامی چکوسلواکی در سال ۱۹۶۸ و یا آسیای میانه بعد از آنکه روس آزادی مردم مؤمن آن سر زمین را که بتاریخ ۲۷ نوامبر ۱۹۱۷ اعلان کردند ، برسمیت شناخت ولی دو سال بعد آنرا نقض کرد .

اگر ظلم و تشدد خاصهٔ کمونیزم نمیبود و درد های مردم را درمان میکرد چرا کار گران لهستان برضد حکومت مزدور آن کشور که پیرو نظام کمونیزم است قیام میکردند .

در کشور روس نیز باوجود اختناق و سلب آزادیها از طرف مخالفین کمونیزم در هر ماه نشریه‌ها از چاپ می بر آید و بطور سری درمیان مردم پخش میشود و گاهی هم می بینیم که اکثر نویسند گان قبول هر نوع فشار و شکنجه میکنند و علناً برضد حکومت روس میاستد مانند اندری سخاروف ویا بانوی شاعر نا تالی ژور یا نفسکایا که برضد کمونیزم عصیان کرد و مردم را به خدا پرستی دعوت میداد و در سال ۱۹۶۹ زندانی شد و یا نویسندهٔ بزرگ آن کشور « الیکفتش آما لریک » که بار ها در محبس و تبعید ها بسر برد و سر انجام از خاک روس فرار

کرد و به غرب پناهنده شد .

یکی از نویستدگان اند و نزی وضع جامعهٔ کمونستی روس را چنین تمثیل میکنند :

۱ - درمیان مردم تساوی در تمام حقوق مدنی وجود ندارد .

۲ - وضع مرفه و زندگی اشراف رهبران حزب کمونست و گروه دیگر از رهبران شوروی ، زیرا آنان در نهایت خوشگذرانی و رفاه زندگی میکنند و درمیان دسترنج و ثروت ملت زحمتکش غوطه ورند در حالیکه مردم مثل حیوانات و گلهٔ گوسفند بسر میبرند و از رفاه و آسایش محرومند .

۳ - دستمزد ها بویژه دستمزد کار های دشوار و سنگین فوق العاده کاهش یافته است .

٤ - کار گر ، آلت بی اراده ی بیش نیست .

٥ - کشاورزان از ساده ترین حقوق خود محرومند .

٦ - افراد ملت ، از آزادی انتقال آزده به شهر و بالعکس محرومند .

۷ - اجبار مردم به پیروی و اطاعت بی چون و چرا از حزب کمونست ولو آنکه کمونست یا عضو حزب کمونست نباشد .

۸ - محرومیت افراد ، از آزادیهای شخصی و فردی بطور که حق انتخاب و گزینش در زندگی را ندارند .

۹ - ممنوعیت کامل هر گونه عمل دینی به طوری که هیچکس نمیتواند عبادتی انجام بدهد یا از دینی پیروی بنماید .

کمونیزم را از نظر نویسندگان خود روس نیز از نظر میگذارنیم .

« الکساندر سولژ نیتسن » یکی از نوسیندگان بزرگ روس است و باری یک اثرش بنام « یک روز از زندگانی ایوان دنیسویچ » برای اخذ جایزهٔ لینن نیز از طرف هیأت تحریر مجلهٔ « نووی میر » یکی از نشرات روس مورد تأیید قرار گرفت . وی در ابتدا از طرف مطبوعات روس زیاد تبلیغ شد ولی بعد ها چون حقایقی را برشته تحریر آورد که پالیسی سر دمداران کرملین را باخاک یکسان میکرد ، باز داشت شد و در تبعید بسر برد و اثرش بنام « به زما مداران شوروی » که پرده از رخ کثیف کمونیزم و کار گر در آرب سیبرداشت قهر زما مداران روس را بیش از پیش ساخت این اثر در پنجم سپتامبر ۱۹۷۳ به زما مداران شوروی فرستاده شد و بعد در سال ۱۹۷٤ در پاریس به چاپ رسید . او مارکسیسم را « نوخی دهشتبار قرن بیستم » مینامد او در سخنان خود که در مجمع نمایندگان کنگرهٔ اتحادیهٔ تولید کنندگان و فدر اسیون کار امریکا در نیو یارک ایراد کرد میگوید : « پس از انقلاب در روسیه دورهٔ کمونیزم جنگی و سر باز خانه ی توسط لینن پدید آمد که تا سال ۱۹۲۱ ادامه یافت » .

آقای دکتور عنایت الله رضا که این سخنرانی را ترجمه کرده است درباره چنین توضیح میدهد : « پس از انقلاب اکتوبر سال ۱۹۱۷ در روسیه سیستم

« نیروی اسلام ، یک نیروی آزادیبخشی است که برای دفع اصول بردهگی و ستمگری و استثمارگری ، از روی کره زمین به پیش میرود و در این راه هیچگاه نظری بملیت ، نژاد ، رنگ ، زبان و دین افراد ندارد و مردم همه در نظر او مساوی هستند زیرا همه انسانند . »

(استاد سید قطب شهید)

اقتصادی تازه بی بنام (کمونیزم جنگی) پدید آمد که بویژه مربوط به روستائیان و امور کشاورزی روسیه بود. در این سیستم اقتصادی کشاورزان در زمینی که از سوی دولت در اختیار شان گذارده شده بود کشت میکردند اما همینکه غله تولید میشد مأموران دولتی میآمدند و تنها بخشی برای کشت مجدد و خوراک بخورو نمیر روستائیان باقی میگذاردند و باقی را به انبار دولتی میبردند. این کار سبب شد روستائیان که سودی از کار زارعت نمیدیدند کشاورزی را رها کنند و به شهر روی آورند دولت شوروی در سال ۱۹۲۱ ناگزیر از این سیستم دست برداشت و سیاست اقتصادی جدید «نپ» « NEP » را در پیش گرفت که طی آن ما زاد غله توسط دولت از کشاورزان خریده میشد این وضع نیز تا سال ۱۹۲۸ در اتحاد شوروی ادامه یافت و از آن پس بدست استالین از بین رفت».

سولژ نیتسین در جای دیگر از سخنانش میگوید: «لینن بود که کشاورزان روسیه را با وعدهٔ وا گذاری زمین فریب داد؛ لینن بود که کارگران را با وعدهٔ حکومت گمراه کرد؛ لنین بود که اتحادیه های کارگران را به ارگان اسارت زحمتکشان بدل کرد؛ لنین بود که کمیتهٔ فوق العادهٔ امنیت دولتی (چکا) را پدید آورد؛ لنین بود که اردوگاههای کار اجباری را بنیاد نهاد؛ لنین بود که واحد های ارتش را برای سرکوب کردن نهضت های ملی درون روسیه گسیل داشت تا پیوستگی امپراتوری روسیه از هم نگسلد».

این بود جرایمی که به اصطلاح کمونستها رهبر کارگران و زحمتکشان جهان (!) آنرا مرتکب شده است و این در حقیقت اصولی است که جامعه کمونستی با یستی بآن استوار باشد.

اگر از این همه سخنانی که ذکر شد بطور اختصار نتیجه گیری کنیم بطور قطع میتوان گفت که کمونیزم فجیع ترین نظام طبقاتی و سرمایه داری است و میتوان جامعه روس را که در رأس ممالک کمونستی قرار دارد به دو طبقه تقسیم نمود: یکی طبقهٔ محکوم که کارگر وکشاورز نیز در آن شامل است و درکمال مشقت و محرومیت زندگی میکنند و دو دیگر طبقهٔ حاکم یا سرمایه دار که در کمال ناز و تنعم بسر میبرند و دستمزد کارگر و محصول دست زارع همه در خدمتش قرار دارد. با وجود این همه بی عدالتی و ظلم تشدد و باوجود این همه طبقات باز هم باکمال بی حیایی کمونیزم را نظام بی طبقات (!) و نظام عدالت اجتماعی (!) نام میگذارند.

از اثاری که در نوشتن این مقاله استفاده شده است:

۱ - مبارزات خلق مسلمان ترکستان برضد استعمار سرخ شوروی و چین تألیف محمد امد شهاب، ترجمهٔ مهدی پیشوائی.

۲ - به زما مداران شوروی تألیف الکساندر سولژ نیتسن ترجمهٔ دا کتر عنایت الله رضا.

ن، (ستانيزى)

دتيارو هيواد

يريدون ليطفئوا نور الله بافواههم والله متم نوره ولوكره الكافرون ط .

د شپې د هيواد په پراخه لمن کی
د غرونو د تخت په څنډوکی
ازلګی پورته سوی
د شپې دغه فرمان چی :
ای د تيارو پالونکو !
زموږ د ظلمت او تيارو په بريدونوکی ،
د توحيد وړانګی ژوند کوی ،
ستاسو د تور نظر لمنی سوځی
ستاسو د ظلمت ګريوان څيروی
ستاسو د هوس لات ومنات تسکوروی
ستاسو د وحشت هبل وعزا ماتوی

❀❀❀

همدغه وړانګه چی لا تراوسه وړانګه ده
چی ستره او پراخه شوه
او پراخيږی
دا به لمر شی ،
روڼ او ځلنده
د آسمان د پراخه څنډ «افق» په لمن کی
هغه وخت به بيا په دوه ګوتو نه پټيږی ،

❀❀❀

دغی وړانګی ډير کلونه پخوا
هو ! ډير کلونه پخوا
په لرغونی زمانه کی
هلته چی پر نړی باندی
د ظلمت تياری خوری وی
هلته چی هر څه په تورتم کی ورک و
هلته چی د نور او سپين توپير نه کيده
نو هلته چی د زړو کورهم د وحشت تيارو نيولی و
هلته چی جهالت بی سياله بادشاه و.
همدغی وړانګی ،
هو همدغی وړانګی
د توحيد وړانګی
د لرغونی ظلمت او جهالت د تورتم پلوشيرلی و
تيار و نيولو زړونو ته ئی د ايمان او پوهی رڼا
ببښلی وه .
د لمری ځل لپاره.
د سروتيارو ، تورو ، سوروزمه ، پلويانو !
تاسو غواړی :
د خپل ستر سره بت (ليمن) پښوته
د هغی وينه توی کړی
خو ،
د نور او ظلمت په جګړه کی
د پوهی او جهالت په جګړه کی
چيری هم د اسی ندی شوی
د غی توزنی هيلی د ډيرو خولی
له خاورو ډک کريدی
اياتا سو د خپلو تورو بتانو ،
لات منات ، هبل ، وعزی

له انجام نه خبرنه یی ؟!
ستاسو سور بت
دولړی بت
د کاختی او سختی بت
اوس هیڅ زړه را ښکون نلری .
څکه وړی به ساړه شی
خو .
زمو ږوړانګه ،
د توحید وړانګه
تل به څلنده وی
تل به د تیارو د لار ورکو لپاره
د لاری مشال وی

❀❀❀

د سر و تیارو پلویانو !
د نوی جهالت مخکښانو !
تورو سور وزمه روسانو !
ستاسو د تیارو په هیوادکی
زړونه بیری نیولی دی
سرونه له هیبته تل زوړند دی
هسکی غړی د سولی په پسول ، پسولل کیږی
پوهه او بصیرت زندانی دی
وحشت او مړئیتوب ازاد دی
د مینی او ورور ولی د کورګی دیوالونه
د بد بینی او ویری بریخو نړولی دی
عقل د (کی ، جی ، بی) په وچو شګنو دښتو او
څنګلوکی ،
خپله لار ورکه کړیده
د فکری خپلوا کی پښوته سری پیړی (زولنی) پرتی
دی
د ایمان ځای شک او تردید نیولی دی
د خوښی او نشاط ګلان دوا ورینی سیمی (سایبریا)
سیلی زمولنی دی

د ماغونه تی تیټ فکرونه کوی
د ګیډی د مړښت لپاره ،
د غوړا وخوړب اخور د پیدا کیدوفکر
سرونه ټیټ دی ،
د لوړی څوکی لپاره
د ښکلو جا مو لپاره
کارونه تیټ دی
د تیټو هو سونو لپاره
د ښکلو مخو لپاره

د علم او فکر مخی ته د ناپوهی او بی سدی،
سپیان توره په لاس ولاړ دی
حق او ریښتیا خبری
ځان ته د سره اور بلول دی
انسانیت خاموش دی
زندانی دی
جهالت ازاد او وا کمن دی

❀❀❀

دښمن له ستر دیوال نه ،
مهیب توپان را الوتونکی دی
توندی څپی یی لالهانده او نا کراره دی
تندریز ، او ازونه ، هیبت ناک غرسبهار
د لوټ او تخریب لښکر ، د سرو لیوا نولښکر
ورسره په بدرګه را روان دی
غواړی د حق ډیوه مړه کړی
د توحید وړانګه د کمون په ظلمت کی ونغاړی
غواړی د حرم شمعی خاموشه شی
ظلمت را ولی .
توری وریځی یی را خوری کړی
د وحشت او بربریت توپان را والوزوی
له اسمانه سری سکروټی را وو روی
پدی اسره چی د تیار و څواک
ته زیان و نه رسیږی

او د توحید وړانگه د سره کمون
په تورو زندانو کی زندانی شی
خو ،
د تاریخ لرغونو سترگو داسی په زرگونو توپانونه
لیدلی دی
د روم او پارس یرغلونه ېی لیدلی دی
ډیر ، ډیر هیبتناک او ځواکمن واکمنان ېی لیدلی
دی
نمرو د او فرعون ېی لیدلی دی
د قیانوس او ابرهه ېی لیدلی دی
مغرور او بنکرور سوبمنان ېی لیدلی دی
چنگیز او هلاکوبی لیدلی دی
چی د اسونو د سمونو دوړوی
د آسمان سترگی خړی کړیدی

د هغوی ځلنده وینی بهونکی تورې ېی لیدلی دی
هغوی هم ،
د توحید دوړ انگی په ورکولو پسی
خواری گاللی وی
دا وړ د ومنزلونو سترياوی ېی گاللی وی
ولږی ، تندی ېی زغملی وی
د سرونو منارونه ېی جوړ کړی وو
د وینو ویالی ېی بهولی وی
خو ،
دا قانون لا تراوسه جاری دی چی :
د توحید ډیوه به بلیږی
وړانگی به ېی خوریږی
د تل لپاره .

❀❀❀

منل شوی بیعت ...

تجارتی جوپی تیریدلی. له هغه وروسته چی هر مسلمان ته د قریشو له بندنه د تیښتی موقع په لاس ورتله هغه به مدینی ته د تلو پرځای «دابوبصیر» استوگنځی ته ورته ، تردی پوری چی هلته ۷۰ تنه جمع شول او د قریشو په جوپو باندی د پرله پسی حملو کولو لامله ېی هغوی په تنگ کړی . په پای کی قریشو پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پیشنهاد وکړ چی هغه خلک مدینی ته راو غواړی او د حدیبی د تړون هغه شرط خود پخپله ساقط شو .

رسول الله صلی الله علیه وسلم ...

متعهدو خلکو اوخپلوانو سره دتل لپاره مشوره کوی -

دوی په حقیقتکی د قرآن کریم آیت تأویلوی -

او هغه مشوره ئی نده کړی چی قرآن کریم ئی غواړی -

د مشوری او نظر د اهمیت په برخه کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لاندینی مبارکحدیت په رانقلولو خبری پای ته رسوو -

(چا چی د کوم امیر سره بی د مسلمانانو له مشوری څخه بیعت وکړ -

نو د ده بیعت هم نه صحیح کیږی او نه د هغه چا امارت چی ده ورسره بیعت کړی)

د مشوری په برخه کی دا هم ضرور ده چی د مشوری اخیستلو طرز او سیستم په دی دول وی چی هلته هغه وشی چی د اسلامی ... با شعوره او پوهو خلکو سره مشوره وشی : د قومیت ، قبیلوی او کورنی روابط پکښی هیڅ دول اغیزه ونلری .

بقلم ن

میهن ما کمین‌ها پاسداری اسلام

اي عدو !
تومپندار !
که من اکنون از کار رفته ام ،
هنوز هم درپای هر دیوار من
اسکندری خفته است ! !
و من به ایشان همچو سنگرم :
در عقب صخره های من
اکنون شیران خوابیده اند ،
آنهایی که سالها پیش ،
گلوی استعمار دریده اند
و هیچگاه در مقابل
حیله و نیرنگ
دشمن مکار به خواب نرفته اند .
آری ! آنها از پدران خویش
درس همت گرفته اند .
و بدان ای عدو !
که شیر زادگان این مرزو بوم
بارها در راه حراست میهن
خون ریخته اند.
و صدها دهان همچو تو درنده گان را -
شکسته اند .
و بارها بر قله های
سربفلک کشیده هند و کش و پا میر
مشعل فروزان عقیده و آزادی
افراخته اند.
و صفحه یی از تاریخ شهادت
به یادگار مانده اند .
من همچو دیر خرابم
که مانند دیوار های اساطیری
باستان ریخته ام !
منم که در مقابل
این همه غریو و بمبار دمان
تن در داده ام .
هرچه بمب های سنگین
برمن ریخته اند -
و برج بارو های مرا سوخته اند.
بازهم منم که درپای
همت گداخته ام !
ولی بدان ای اهریمن !
که من بگوش فرزندان میهن
نوای همت نواخته ام .
و با این همه ویرانی و ریختگی
در پیکار حق
دلیرانه ایستاده ام !
آغوش من هنوز هم
پناگاه مجاهدان راه حق است .
و کمین پاسداری اسلام مطلق !
سالها بعد

بقیه در صفحهٔ (۴۲)

د شهرت ننګیال لیکنه

د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وآله وسلم د زماني لیکني

د بشریت د لارښود حضرت محمد ﷺ د مبارک ژوند هره پاڼه او د هغه بختور وخت او زماني حالات د مسلمانانو لپاره د یوه روښانه مشال حیثیت لري.

د حضرت محمد ﷺ د سپیڅلي ژوند په هکله زرګونو کتابونه لیکل شویدي او لیکل کیږي او بیا به هم ولیکل شي؛ ځکه د بشریت د ناجي د ژوند د حالاتو بیان او لیکنه همغسي خپله تازګي له ځانه سره لري ـ او څومره رسائل اوکتابونه چي پدي هکله لیکل کیږي خوند او لذت یې زیاتیږي ـ او هر څومره کتابونه چي ولیکل شي له مطالعي نه وروسته بیاهم انسان د دغه بختور عصر د حالاتو څرګندوني، مطالعي او بیان ته تږي او لیواله وي ـ دغه لړي پای نلري ـ خوند او ښکلایي نه کمیږي او په اظهار او سلسله کي یې څه کمښت نه محسوسیږي.

د پیغمبر ﷺ مبارک ژوند دومره اړخونه لري چي حدیې نشته او بیا دهغه هر اړخ د دي تقاضا لري چي په زرګونو کتابونه پري ولیکل شي. پدي هکله یوازي اسلامي علماوو کتابونه ندي لیکلي بلکه غیر اسلامي پوهانوهم د اسلام د پیغمبر ﷺ د ژوند په مختلفو اړخونو کتابونه او رسالي لیکلي دي. د انګلیستان مشهور تاریخ پوه (مارګیولیس) په خپل کتاب (محمد) کي چي په (۱۹۰۵) کښي چاپ شویدی لیکلي دي: د محمد ﷺ د سوانح لیکونکو سلسله‌یوه پراخه سلسله ده چي ختم کیدل یې امکان نلري، لیکني پدغه سلسله کي ځای موندل یو ریښتیاهم چي د ستر افتخار ځای» دی.

او لکه مخکي موچي وویل: د بشریت د لارښود د ژوند هره لمحه، هره دقیقه او ګړی د مسلمانانو لپاره د سترو سعادت ښوونکو رازونو خزانه له ځانه سره لري له همدی امله د هغه ﷺ د ژوند په حالاتو اسلامي علماو و مفصل کتابونه لیکلي دي او د سیرة کتابونه په مختلفو ژبوکي چاپ شویدي.

له ډیري‌مودی را هیسي‌له ما سره دا فکرؤ چي د اسلام د صدر د لیک، کتابت او لیک دود او دفتري‌کارونو په هکله مستند معلومات را غونډ کړم ـ دغه هیلي ته درسید و په هیله می یوڅه مواد او ماٴخذونه ترلاسه‌کړل څو پدغه برخه کي د یوه ځانګړي بحث په توګه خپورشي.

خوبیاهم زه خپله دغه څېړنه نیمګړي‌ګنم؛ځکه له یوی خوا ښایي دغه مهم او ارزښتناک بحث او

مطالب به زما دېرماتي ګوډي» لیکنې په ترڅ کې د لوستونکو بشپړه تنده ماته نشي کړی او له بلې خوا په دغه بحراني وخت کې د مأخذونو او موادو پیدا کول هم ګران کار دی ـ خوبیاهم خدای او وس ، بنده په خپله وسه پردی دادی د خپل عجز او ناتوانی سره سره د دغه مبحث په لیکلو پیل کوم او له لوی او توانا خدای جل جلاله څه د مرستی غوښتنه کوم : لویه خدایه ! که زه د دغه بحث په لیکلوکی د کومې سهوی او خطا مرتکب شوی وم زما دغه خطا او اشتباه عفوه کړه ! او خدای د وکړی چی د نورو د خطا او اشتباسبب و نه ګرځی .

د اسلام له ظهور نه د مخه عربي لیکنې

په عربوکی که څه هم د لیک او کتابت رواج ډیرلږ وُ،خو موجودیت یې څه اوږده سابقه لری . (حمیری) او (نابتی) خط پکی له ډیری پخوا او لرغونی زمانی د ودؤ چی د لرغون پیژندونکو د پلټنو او زیار په نتیجه‌کی د دغو لیکنو ډیری نسخی موندلی شویدی .

د اسلام له ظهور نه څه موده مخکی یو بل ډول خط اختراع کړی شو چی د (عربی) خط په نامه یا دیده ـ دغه خط مختلفو شکاونو له غوره کولونه و روسته دا وسنی لیک بڼه غوره کړه .

ابن الندیم له کابی څخه روایت کړی دی : «هغو کسانو چی عربی خط اختراع کړنوونه یې دادی : ابو جاد ـ هواز ـ حطی ـ کلمون ـ سعفص قرشات چی اوس ابجد ، هوز ، حطی کلمن ـ و رڅخه جوړ او پدی ډول تلفظ کیږی» .

ابن الندیم د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه دا قول هم را نقل کړیدی : «هغه چا چی د لومړی ځل لپاره خط ولیکه هغه د بولان د قبیلی چی (طی) د قبیلی یوه ښېه ده دری تنه وو چی (انبار) نومی ځای کی او سیدل او نومونه یې دادی: مرامره بن مره ـ اسلم بن سدرت عامره بن جدره» .

دغه شان د کعب د اقول دی چی تول خطونه حضرت ادم علیه السلام اختراع کړی وو پدی ټولو روایتونو کی ، قیاس ته د ابن الندیم دا روایت نږدی ښکاری چی هغه د عمر بن شبه د(کتاب مکه) له رسالی څخه را نقل کړیدی ، او هغه دا چی (له ټولو نه لومړی عربی خط هغه سړی اختراع کړچی د بنو مخلد بن نضر کنانه له کورنی څخه ؤ ـ او دا د قریشو د ترق او له نورو ملکونو سره د تجارت د پراختیا زمانه وه .

ابن الندیم لیکلی دی چی ما د مامون الرشید په کتابخانه کی یوسند لیدلی ؤ چی الفاظ یې داؤ حق عبدالمطلب بن هاشم من اهل مکه علی فلان بن فلان الحمیری من اهل وزل صنعا علیه الف درهم فضه کیلاً بالحدید و منی دعاه بها اجابه ـ شهید الله و الملکان) .

ترجمه : دا د عبدالمطلب بن هاشم (چی د مکی او سیدونکی دی) پور په فلانی د فلانی په زوی دی دا د سپینو زرو د رهمونه دی ، هر کله چی له هغه څخه و غوښتل شی هغه به یې ادا کوی ـ خدای او د وه سلکی پدی خبره شاهدان دی .

د اسلام له ظهور نه مخکی دجاهلیت د زمانی له اشعار و څخه دا لاندی شعر د (شنفری) نومی شاعر دی چی د (صعالیک) له شاعرانو څخه ؤ

د عست علی غطش و بغش و صحبتی
شعارو ارزیزو و جرو افکل
فایمت نسواناً وایتمت ولدة
وعدت کما ابدات واللیل الیل

ترجمه : په توره او ویر وونکی شپه کی چی باران اوریده ـ بریښنا ، رعد او ډار زما سره ملګری ؤ خولوږی په حالت کی یوی قبیلی د لوټمار او چور لپاره له خپل هسوګنځی څخه و وتم او په یوه حمله

سرهمی بنځی کونډی او ماشومان یتیمان کړل او په ډیره بیړه سره خپل لوښړی ځای ته راستون شوم صعالیک د صعلوک جمع ده په لغت کی مفلس او نیستمن سړی ته ویل کیږی خو په اصطلاح کی د جاهلیت پـه زمانه کی په هغو خلکو اطلاق کیده چی د خلکو په کورونو به یی نـاڅاپی حملی و رووړل او چور کولی به یی :

شعر او شاعری له ډیری پخوا زمانی نـه پـه عربوکی دودوه . په حجاز کی دری عمده بازارونه لکه عکاظ ـ مجنه او ذی المجاز دا دب او اقتصاد، نمایش او ننداری بنه گرم او تا وده ساتلی ؤ ، وا یی چه په کعبه کی به ښه ښه شاعران را ټولیدل او شعرونه به یی ویل او په ټولو کی غوره شعر به یی د کعبی پر د یوال ځړا وه چی د(معلقات سبع)کلمه هم له دغه ځای څخه پیدا شویده .

(عشی قیس) د جاهلیت د زمانی یوه مشهور شاعره د یوه بینومه سړی (محلق) به باب چی ټولی لونی یی بی وا ده پاته وی یوه قصیده و ویله‌لږموده و روسته د همدغه قصیدی د خپرید وله مخی د (محلق) لونی په خورا ښو کورونوکی وا ده شوی او پخپله هغه هم د لوړ نوم خاوند شو . (تاریخ سیاسی اسلام . صادق آینه وند ٤٤ ـ ٤٥ مخ).

کوم غوره شعر به چی په کعبه و ځړول شو نو د هغه په ځواب کی به نورو شاعرانو له هغه نه دا و چت او غوره شعر و یلو هڅه کوله او دغه لړی همدغسی روانه وه .

وا یی چی یوه ورځ یوه صحابی د (انا اعطیناک الکوثر) سورة و لیکه او په کعبه یی و ځړاوه ـ شاعرانو چی دغه سورة ولید ، د هغه ایجاز ـ اعجاز فصاحت ، بلاغت ، اغیزی او ترکیب ته هک پک حیران شول ـ او ټول د هغه په لوړ توب او غوره والی قانع او له مقابلی نه یی خپل عجز او ناتوانی ځرگنده کړه .

ډاکتر مصطفی الاعظمی د ملـک سعود د پوهنتون د احادیثو استاد په خپل کتاب (کتاب النبی ﷺ) کی لیکلی دی : په عربوکی هغه څوک چی په لیک لوست پوهیده هغه یی د اسلام د ظهور په زمانه کی هم کامل انسان باله .

په طبقـات ابن سعد کی راغـلی دی چی کامل سړی د جاهلیت او اسلام په اوائلوکی هغه وُچیعربی لیک و کولی شی او غشی و شیتلوکی ښه مهارت ولری .

علامه بلا ذری لیکی په هغه وخت کی چی حضرت محمد ﷺ مبعوث شو په قریشو کی (۱۷) کسه په لیک لوست پوهیدل چی مشهوری دادی : حضرت عمر ، حضرت علی ، حضرت عثمان حضرت ابو عبیده ـ طلحه ـ زید ـ ابو حذیفه ، ابو سفیان ، شفاء بنت عبدالله او نور رضی الله تعالی عنهم .

ډاکـتر مصطفی الاعظمی لیکی : د جاهلیت په زمانه کی عرب د لیک په قدر پوهیدل خو لدی کبله چی په ورځینو چـاروکی ورتـه د ومره اړتـه وو نو رواج یی لږؤ .

خو د اسلام د سعـادت ښونکی دین په ظهور او د حضرت محمد ﷺ په بعثت سره چی د هدایت نور د ځمکی کـره روښانـه کـړه د وحی پـه پیل کی پیغمبر ﷺ مخاطب کړی شو :

(اقـرأ باسم ربك الذی خلق ، خلق الانسان من علق . اقرأ وربك الاکرم الذی علم بالقلم) .

(العلق : ١ـ٤)

ترجمه :

ولوله د خپـل هغـه رب په نامه چی د ټولو ځیزونو پیدا کوونکی دی ـ انسان یی د وینی له ټوټی څخه پیدا کړ .

ولوله او ستا پروردگار ډیرکریم دی ـ هغه چی

انسان ته يې د قلم پواسطه علم زده کړ .

د حضرت محمد ﷺ د زمانې ليکنې

د اسلام د فرائضو او واجباتو په اساسي فهرست کې علم سر خط او د اسلام د اساسي پنځه پايو سرتکيه ده ځکه چې د علم پواسطه د دې اساساتو معرفت او ښوونه ښکاره شويده نو ځکه علم د دې ټولو بنيادونو اصل او سرنامه ده .

د حضرت محمد ﷺ په بعثت سره ليک لوست زياته پراختيا پيدا کړه او د پيغمبر ﷺ او د تعليمي سياست په برکت په ډير لږ وخت کې تعليم خپور شو او د ليک لوست د زده‌کړې لمنه زياته پراخه کړې شوه .

قرآني آيتونه چې يو په بل پسې نازيدل هر يوه نوى موضوع مطرح کوله او هرې مسئلې نوې فکرونه منځ ته راوستل . قرآن کريم له ځمکې ، بحرونو ، آسمانانو ، کائناتو او ستورو څخه بحثونه کول د پيدايښت او خلقت او کائناتو له اسرارو څخه يې پرده پورته کوله ، د شاتو د مچيو او ميږيو ژوند ته به يې اشاره کوله ـ په ځمکه کې د زړي او تخم د ټوکيدو او زرغونيدو ـ دغنمو له وږي او د خرما او انځيرو له زرغونيدو څخه بحث کاوه ـ څو خلک متوجه شي او د اشياوو په خلقت تفکر وکاندي ، او د هيڅ يوې پديدې او موجود څخه که څه هم ډيرووړ او کوچنى وي په سادگۍ سره تير نشي ـ بلکه د ژواندانه په هره برخه او څانگه کې له تدبر او تفکر او بصيرت څخه کار واخلي .

د تفکر او جهان په خلقت کې او اسرارو کې پلټنه او پوهيدل . (ولعلهم يتذکرون ، افلا تعقلون ، افلا يتذکرون) . او داسې نورو مبارکو آيتونو په ترڅ کې په وار وار راغلي او بندگان يې تفکر تعمق او پلټنې ته متوجه کړيدي .

اسلام دا نه خوښوي چې انسان دې يوازې مادي ژوند ولرې چې په خوراک ، څښاک او پوښاک کې محصور وي .

اسلام انسان د تفکر او بصيرت خواته را بولي او تحرک ته يې هڅوي اسلام د علم تحصيل ، تدبر ، تفکر ، پيژندنه او پوهيدنه د اهميت له مخې د شرعي مکلفيت په بڼه کې راوستلې دى .

(هل يستوى الذين يعلمون والذين لا يعلمون).

(سورة الرسز : آية ٩)

آيا يو شان دي هغه کسان چې پوهيږي (علم لري) او هغه څوک چې نه پوهيږي ؟!

(ومن يؤت الحكمة فقد اوتى خيراً كثيراً) .

(سورة البقرة : آية ٢١٩)

هر چا ته چې پوهه او حکمت ورکړ شوى هغه ته ډير خير او منفعت هم ورکړ شوى .

(فلولا نفر من كل فرقة منهم طائفة ليتفقهوا فى الدين ولينذروا قومهم اذ ارجعوا اليهم .

(سورة التوبه : آية ١٢٢)

ترجمه : ولې ولاړ نشي (علمي مرکزونو او استادانو ته) له هر فرق نه (يو شمير خلک) چې علم زده کړي او چې خپلو خلکو ته راستانه شي هغوى (د جهل او ناپوهي ، له اضرارو څخه) ووير وي .

که څه هم پيغبر ﷺ ته د هغه وخت نامساعده شرايطو او تاوجنو حالاتو دغه موقع ورنکړه چې لوست يې کړې وي ، او دا به هم د الله تعالى حکمت ؤ او الله تعالى به په خپل علم او کلام څوک شريکول نه غوښتل نو ځکه يې خپل استازى امي وساتلو کفارو به هغه وخت هم ويل چې دا هر څه ورته فلانکى يهودي عالم ښيء .

خو له تعليم سره د پيغمبر ﷺ بې کچې مينه وه او هر مسلمان ته يې د علم د زد کړې توصيه کوله : د علم زد کړه په هر مسلمان نارينه او هرې مسلمانه ښځه فرض ده .

له ځانګو نه تر لحده پوری علم حاصل کړی .

حضرت علی رضی الله عنه وایي : ای خلکو پوه شی چی د دین کمال او بشپړتیا علم ، پوهه او په هغه علم عمل دی ، پوه شی چی د علم زده کړه واجب ده او د مال تر کسب غوره دی .

اسلام لوړی انسان د عقلی شخصیت خواته رابولی او خلک عقلی کار (تفکر) ته دعوت کوی ، او د پیغمبرانو د راتلو فلسفه د بشر د عقل بیداری او په کاراچول ګڼی .

پیغمبر ﷺ تعلیم ، لیک او لوست ته په دومره اهمیت قایل ؤ چی کله د هجرت په دوهم کال د بدر په غزا کی کوم قریش ونیول شول له ځینو څخه فدیه واخستل شوه او ځینی نورو ته حضرت محمد ﷺ وفرمایل : هر یو دی لسو مسلمانو ماشومانو ته د لیک لوست د زده کولو ذمه واخلی او هغوی ته د لیک لوست وښیء هغوی له فدیی نه معاف دی چی زید بن ثابت رضی الله عنه د وحی کاتب هم پدغه طریقه سره لیک لوست زده کړی دی.

د مشکوة په کتاب العلم کی راغلی دی چی یوځل حضور ﷺ جومات ته تشریف یووړ ـ په جومات کی دوه حلقی جوړی وی ـ یوه د ذکر حلقه وه او بله د درس حلقه ـ حضور ﷺ د درس په حلقه کی کیناست .

د حضرت عبادة بن الصامت رضی الله عنه نه روایت دی :

(علمت الناس من اهل الصفة القرآن والکتاب فأهدی الی رجل منهم قوساً) . (رواه بخاری)

ما اصحاب صفه ته د قرآن او لیک زده کړه ورکوله د هغی په صله کی راته یوه تن یوه لینده راکړه . یعنی دا چی اصحاب صفه ته چی کوم تعلیم ورکول کیده په هغه کی د لیک او کتابت زده کړه هم شامله وه.

دا حادیثو په مجموعه (تحف العقول) کی راغلی چی حضور ﷺ فرمایلی دی . (قیدوا العلم بالکتابه) یعنی علم په لیک او کتابت کی وساتیء

له همدی امله چی اسلام زده کړی ته خورا زیات اهمیت ورکاوه ، زده کړه یې د یوی دینی فریضی په توګه معرفی کړی وه . په ډیر لږ وخت کی علم او پوهی د هر مسلمان په سینه کی ځای ونیو او همدغه علم له لاری مسلمانانو زیات پرمختګونه وکړل او په ګرده نړی کی یې اسلامی تمدن او اوچت فرهنګ خپور کړ داسی فرهنګ او تمدن چی نني اروپا د همغه تمدن او فرهنګ مرهونه او پوروړی ګڼل کیږی او پخپله هغوی هم دغه اعتراف ته غاړه ایښی ده .

ولتر وایی د ناپوهی او توحش په هغه زمانه کی مسیحیانو د روم د امپراطوری له سقوط نه وروسته هر څه لکه طب ، ریاضیات او نور علوم له مسلمانانو څخه زده کړل ـ او له همغه وخته دی ته اړشول چی د دغه علوسو د تحصیل لپاره د مسلمانانو ملکونو ته سفر وکړی .

کوم دین چی محمد ﷺ راوړی په ریښتیاهم چی له مسیحیت نه غوره ؤ په دغه دین کی هیڅکله هم یو نصرانی (حضرت عیسی علیه السلام) په خدایی ونه نیول شو او یوه نصرانی ښځه (حضرت مریم) د خدای سورونه ګڼل شوه .

د علم په هکله د پوړتنیو نبوی تأ کیداتو په نتیجه کی مسلمانانو د علم حصول ته زنګونونه مات کړل ، او په لږ وخت کی یې د علوسو خزانی بهر ته راویستلی او یو غوره او مثالی تمدن یې را منځ ته کړ . مسلمانانو په علم کلام ، فلسفه ، طب ، هیئت نجوم ، کیمیا ، هندسه جغرافیه ، تاریخ ، ادب ، شعر او خطاطی داسی اوچتی پوړی ته وختل چی نړی پری روښانه شوه او د ژوند هر اړخ ته یې خپله

خولی پراخه کړه.

برتر اندراسل وايي: اسلامی لوړ فرهنګ په ډیر لږ وخت کی په نړی کی خپور شو، اروپا په لومړی سرکی له همدغه اسلامی کتابونو او فرهنګ څخه زده کړل او تر شپاړسمی میلادی پیړی پوری دغه کتابونه په اروپا کی د درسی کتابونو په توګه په تعلیمی نصاب کی شامل او منل شوی ؤ.

ویل دورانت وايي: لکه څنګه چی د نبوی احادیثو له مطالعی څخه معلومیږی پیغمبر ﷺ خلک د علم زده کړی ته ډیر زیات تشویقول او د علم تحصیل یی ډیر غوره باله.

فرانسو ژوزف پیکاوه وايي که هغه کتابونه چی مسیحیانو تالیف کړی له هغو کتابونو سره چی مسلمانانو تصنیف کړی مقاسیه کړی شی، نوڅرګنده به شی چی د مسلمانانو تصانیف له ابتکار، امتیاز او مزیت څخه برخمن دی.

جان برنال وايي: د علم او معرفت نوی او تازه نسیم په چلید وشو او د اسلام تربیرغ لاندی یی یو پرتمین ترکیب غوره کړ - او له همدغه لاری علم او فن د منځنیو پیړیو اروپا ته لاره پیدا کړه.

هرمان راندال وايي: د دغه جغرافیائی نړی په منځ کی د منځنیو پیړیو اروپا هغو علمی اطلاعاتو ته مخه کړه کوم چی د مسلمانانو په کتابونو او کتابخانو کی موجود ؤ.

د اسلام د عظمت پر مختګ فرهنګ او تمدن په باب چی اروپایی او غیر مسلمانو متفکرانو کوم اظهارات او لیکنی کړیدی د هغو ټولونه یولوی دائرة المعارف تشکیلوی.

دغه نظریات څرګندوی چی د نا پوهی له تیارو څخه د بشریت د وتلو، او دارو پا علمی جنبشونه د اسلامی تفکر او مفکرانو مرهون دی - او دغه علمی جنبشونه اسلامی هیوادونو ته د سفر او د اسلامی فرهنګ کتابونو او خطی نسخو او عربی ژبی له مطالعی او زدکړی نه سر چنیه نیولی ده او د اسلامی فرهنګ، تصانیفو او خطی نسخو لاس ته راوړل او په خپلو ژبو د هغو ترجمی او له هغی څخه ګټی او اغیزی د دغه بریالیتوبونو لاره ورته هواره کړیده. غلام جیلانی برق لیکی چی په کال ۱۹۲۸ کی یوه هندو له هغه نه د عربی قلمی کتابونه وغوښتل څکه هغه ته معلومه شوی وه چی دارو پا سوداګر له پیسو او طلانه دا کتابونه زیات خوښوی.

د مسلمانانو علمی سرمایه همدغه اروپا په راز راز طریقو سره لاس ته راوړی او له هغه نه یی استفاده او ګټه ترلاسه کړه، چی نن هم د زیاترو علمی کتابونو قلمی نسخی د لندن، فرانس او جرمنی په موزیمو کی قید دی. ډکټر ریفویچ په عجائب خانه (موزیم) کی اوس هم ډیر اسلامی علمی قلمی کتابونه قید دی.

اسلام د انسانیت دین دی او د انسانیت لپاره یی ډیر لوړ او زړه ته نژدی او غوره کارونه کړیدی - له همدی امله دژوند هیڅ داسی اړخ نشته چی مسلمانانو پکی نوی نوی بناګانی او تخلیقی ملغلری نه وی پیلی.

یو اروپایی محقق وايي: «که چیری د مسلمانانو عالمانو علمی کارونه دلاری د مشال په توګه نه بلیدلی نو د یورپ خلکو به تراوسه پوری د جهالت او خواری په تیارو کی ټکری خوړلی) قرانکریم د علم، پوهی او حکمت کتاب دی او د ژوندانه دښکلا او خوشحالی نه علاوه د مرګه وروسته هم د سعادت لاره ښیی؛ همدغه کتاب (قرآنکریم) مسلمانان د پرمختګ او ترقی منزل ته رسولی، او کله یی چی تری مخ ګرځولی نوهر څه یی له لاسه و تلی دی.

قرآنکریم که دیوی خوا د علومو او حکمتو یو مجموعه ده نوله بلی خوا د ادب غوره ، بې ساری او مثالی پانگه هم ده .

لنډه داچې قرآنکریم (حکمت) مدنیت ، حقوقو، اخلاقو ، پخوانی سم تاریخ او د طبعیت د اسرارو له کشف څخه پرته د ادب په ساحه کی هم په خورا لوړه سطح کی قرار لری چې سیالی یې څه ممکنه خبره نده او ساری یې نه موندل شوی او نه به وموندل شی .

د اسلام پیغمبر ﷺ پداسی وخت کی مبعوث شو چې په عربو کی شعر ، شاعری او ادب د هغه وخت او حالاتو عمده محصول ؤ . له همدی امله الهی ارشادات (قرآنکریم) د ادبی معیارونو د یوی پـر مختللی او اوچتی ذخـیری او منبع په توگـه نازل کړی شول .

زیاتره پیغمبران د وخت او حالاتو سره سم معجزی ښودلی دی . د حضرت موسی علیه السلام په وخت کی سحر او ساحری ډیره زیاته وه ، نو حضرت موسی علیه السلام په همدی هکله داسی معجزه وښود له چې د فرعون لوی لوی ساحران مات څه چې حق دین ته بې راو گرځول .

